درویش وردک

۰۶ جنوری ۲۰۱۶

# دوهم مجلس(په فقرکی)

بزرگوارشیخ عبدالقادرگیلانی(رَضِیَّ اللهُ عَنْهُ) د۵۴۵هجری قمری کال دشوال په پنځمه په مدرسه کی داسی وفرمایل: ستا غفلت له تبارک وتعالی خدای څخه،ته دهغی له الطافومحجوب(په پرده کی) کړی یی. له دی غفلت څخه راوګرزه مخکی له دی چی دآفاتوګزارونه درباندی راشی اودمصائبو(بلاوو) ترولکی لاندی راشی.

تراوسه دی لادغفلت ترخه ندی څکلی، نوځکه په هغه څه کی چی یاستی ، خوشحاله یی اوپه ریښتیا همداخوشحالی اوبطر،له خدایه ستا دلیری والی موجب ګرځیدلی. پس په هغه څه چی پکی یاستی، مه خوشحالیږی! ځکه هغه څه چی ستاسو دغرور اوغفلت موجبات یی برابرکړی، له منځه تلونکی اوناپایداردی اوژر به زایل شی.

لوی خدای فرمایی:( حَتَّى فَرِحُوا بِما أُوتُوا اَخَذْنَاهُمْ بَغْتَةً)-« ترڅوپه هغه څه چی ورکړی مودی خوشحاله شی، اونابیره هغه تری اخلو.سوره انعام آیه۴۴-».

نود صبرپه واسطه هغه څه ته رسیدای شی چی دخدای سره دی،ځکه خدای په صبرتینګارکړی. ولی صبراوفقر نشی سره یوځای کیدای، مګردریښتینی مومن سره چی دفقر پوسیله ترآزموینی لاندی نیول کیږی، اونیک اعمال ورته الهام کیږی، اود الهی آزموینی په دی پوړکی چی هرڅه دخدای له لوری ورته مخ راوړی صابر دی.

که دصبراورضا مقام نه وای نوزه به موپه خپل منځ کی نه وای لیدلی. زه دیوی الوتونکی په څیریم چی په لومه کی کیوتلی وی، دشپی راته یوشی څرګندشی اوسبا ګورم چی پښه می په لومه کی ده. ولی ستاسودمصلحت(ګټو) په خاطرمی ډډه ورکړی،ولی تاسو په دی رازنه پوهیږی.

که دتبارک وتعالی خدای موافقت نه وای نوځرنګه به هوښیارسړی په دی ښارکی چی داوسیدونکوترمنځ یی ریا اونفاق دود شوی اوظلم اوتیری اوحرام اوشبهه خپاره شوی، دخدای دنعمتونو(ورکړو) دشکرانی ځای کفران نیولی، واوسیږی اوپاته شی؟ که درازونوله پردی اچولو(کتمان) نه معذورنه وای، نو په ریښتیا هغه څه چی موپه کورونو کی تیریږی هم بیان کړی وای.

ولی زه یوداسی بنسټ لرم چی باید دیوال یی سرته ورسوم، اوداسی ماشومان لرم چی باید روزنه اوپالنه یی وکړم. که دهغه څه له یوی خندی نه، چی زما اوستاسوترمنځ شتون لری پرده پورته کړم، نود هغه فراق اوبیلتون نه چی یادون می وکړپه باره کی دبحث په علت به پوه شی.  ولی زه په دی حال کی دلوی خدای الطافوته لاس اچوم ترڅوراته داسی صبراعطاکړی چی دستونزوپه زغملو په خپله دنده کی بریالی شم. ای خدایه له تاڅخه مرسته غواړم.

(ای غلامه) ته په دنیا کی یوازی دګټې اخیستنی اوجاویدانه ژوندانه لپاره نه یی پیداشوی، پس پخپل ځان کی چی دکوم شیان دخدای دخپګان موجب ګرځی، کړه اوهغه بدل کړه. تا له ټولو بندګیو اوطاعاتوڅخه یوازی د« **لااله الا الله و محمَّد رسول الله** » په ویلو قناعت کړی، ولی پوه شه دا په یوازی سر درسره مرسته نشی کولای ترڅونوشیان ورباندی اضافه نکړی.

ایمان له وینا اوکړوڅخه عبارت دی، نوترڅو چی قول اوفعل سره همغږی نکړی اوله ګناهونو اوتیارو لیری نشی ګټه نلری.کله چی ته دخدای اوامروته غاړه نه ایږدی،لمونځ اوروژه نه نیسی اودخیرله کاراوصدقی اوانفاق څخه سرغړوی، یوازی په ژبه دشهادتینو ویل درته څه ګټه لری؟ کله چی وایی«لااله الّاالله» اودا ادعا کوی ، تاته ویل کیږی چی ستا شاهد ددی ادعا دتصدیق لپاره څه شی دی؟ آیا شاهد لری؟ ددی وینا شاهد کوم دی؟

دخدای داوامرو ترسره کول اوله هغه څه نه ډډه کول چی منع یی کړی، او دبلاو اوآفاتو پروړاندی صبراوشکیبایی اوقضا اوقدرته تسلیمیدل، دغه دی رېښتيني شاهد اودغه دتوحید دادعا بنسټ. اوپوه شه چی دااعمال دی چی ترسره کړل هم نه منل کیږی، بلکه یوازی دزړه په خلوص! ځکه قول له عمله پرته او عمل له اخلاصه پرته وزن اوارزښت نلری.

له خپله ماله درویشانوافقیرانو ته هم برخه ورکړه اودوی له ځان سره برابر وبوله. هیڅوخت سائل اوغوښتونکی مه ردوه په داسی حال کی چی په عطا اوبخشش لاس بری وی که لږ وی اویا ډیروی. په ښښنه اوعطاکی دخدای عزّ وجلّ امرترسره کړه ځکه خدای ښښونکی دی اوښښونکی خوښوی. دخدای شکروباسه چی په عطا اوښښنه یی توانمند کړی یی.

وای پرتا! حیرانی ده! کله چی پوهیږی چی سائل(غوښتونکی) دخدای ډالی ده اوته پرښښنه هم لاس بری یی ولی لاس نیسی اودغه ډالی یی خاوند ته بیرته ورګزوی. کله چی زما ترڅنګ یی نوخبروته می غوږ هم نیسی، ژړا هم کوی اوکله چی سائل درته ودریږی نوسخت زړی کیږی اودهرډول مرستی نه ډډه کوی، داددی څرنګنوینه کوی چی ستاژړا اوسماع دخدای لپاره نه ده، بلکه ظاهری اوریایی ده. زما پرنزدسماع باید لومړی سری اوپټه وی، بیا په زړه وی اووروسته په غړواوجوارحوترسره شی.

هرکله چی غواړی ماته راشی، راځه ولی په دی شرط چی دخپل علم، عمل، ژبی، حسب ونسب څخه لیری شی، شته، ښځه اواولادونه هیرکړی، اوماته دهرډول مادی علایقونه لوڅ وی اویوازی خدای عزّوجلّ ته ځیرشی، ترڅو الهی الطاف دفضل اوعنایت پواسطه درته دقرب جامه واغوندی.

هرکله چی په دی توګه ماته راغلی نودهغی الوتونکی په څیربه وی چی سهاروړی له ځالی ووزی اومابنام مره خپلی ځالی ته راګرځی.

زړه دحق په نورمنورکړه اودرسول اکرم(صَلّی اللهُ علیه وسلم) خوږی وینا ته غوږونیسی چی فرمایی:( **اِتَّقُوا فَرَاسَةَ الْمُوْمِنِ فَاِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُورِ اللهِ عَزَوَجَلَّ**)-« دمومن دفراست(ننی پوهی) نه پرهیزوکړی، ځکه مومن دخدای په نورسره وینی».

ای فاسقه دمومن څخه وبیریږه اودهغی حریم ته مه ننوزه، ځکه ته دګناه په نجاست ککړیی اومومن هغه لوث اوپلیدی چی دتا په زړه کی شتون لری وینی.ستا په شرک اودوه مخی پوهیږی اووینی یی. کوم زشت اعمال چی دی دریا ترجامو لاندی پټ کړی وینی. ستا پټی بدی وینی. وایی چی ترڅوژغورل شوی(رستګار) سره ونه ګوری ، نه ژغورل کیږی، اما ته سرترپایه هوا اوهوس یی اوملګری دی هم دهوا اوهوس اهل دی. یوه پوښتونکی سوال وکړچی دا ړوندتوب ترکومه ادامه لری؟

وویل شول ترڅوچی دیوه تکړه رنځپوه سره یوځای شی اوپه درشل یی تکیه وکړی. اودده پروړاندی نیک نظرولری اوټول شکونه اوریب دده پروړاندی له زړه وباسی. په دروازه کی یی واوسی او ددرملو په تریخوالی یی صبروکړی،

هغه وخت به دی ړوندتوب له سترګو لیری شی. پس دزړونودطبیب اودرنځونو له روغونکی تبارک وتعالی خدای پروړاندی ټیټ سر پاته شه اوټولی اړتیاوی دی له ده وغواړه اوځان دده پروړاندی هیڅ وبوله اوخپل ټول کړه دده پروړاندی دافلاس په پښو وغورځوه.

مخلوق ته دنیړدی کیدو وروتړه اوخدای ته دپاملرنی ورپرانیزه اوپه خپلو ګناهونو اعتراف وکړه اوعذریی حضورته وړاندی کړه، ځکه پرته له ده ، هیڅوک چاته په ګټه اویا ضرر رسولو توانمند ندی. بښوونکی اومنع کوونکی له ده پرته بل څوک نشته. که دخلوص دی پوړته ورسیدی نوړوندوالی به دی له سترګو لیری شی اودظاهر اوباطن سترګی به دی روښی شی.

(ای غلامه) مقام اومنزلت دزړوکالیو اغوستلو اوبی مزه خوړو کی ندی، بلکه دانسان شان اومقام دزړه په پرهیزکی دی. لومړی څادراوپوښښ چی صادق سړی پرځان اچوی دباطن څادر دی اوبیا ظاهرته پام اړوی. اول خپل باطن دتقوی اوزهد په کالیو پټوی، وروسته یی زړه سمبالوی، بیا ظاهرو غړوته رسیږی. اوهرکله چی یی باطن اوظاهردتقوی په ثوب سمبال شو دحق تعالی درحمت اورأفت لاس ورته وړاندی کیږی، دتوفیق اوتقوی جامی وراغوندی.ځوربه یی په هوساینه، کینه به یی په رحمت ډاربه یی په امن، درویشی به یی په قرب اوفقربه یی په توانګری بدل شی.

(ای غلامه) دخپلی روزی برخی دی دزهد او وَرَع په لاسونو وخوره نه دشهوت اونفس، ځکه هغه څوک چی خوری اوژاړی دهغه کس په څیرندی چی خوری اوخاندی. دخپل نصیب څخه یی وخوره اوزړه دخدای دیاد څخه مه غافلوه ترڅو دخوړو دشهوت له شره خلاص شی. که دخپل رنځ دروغتیا لپاره دیوه طبیب له لاسه دارو وخوری دابه ډیره ښه وی تردی چی پخپل سردارو وخوری اوپوه نه وی چی اصل یی له کوم ځایه دی، یعنی هغه څه چی دمتعال خدای له لوری درته حلاله روزی ګرزیدلی درته ښه ده. نه پوهیږم څه شی ستاسو زړونه داسی سخت کړی دی،چی رحمت اوشفقت ستاسو له منځه کډه شوی دی.

دشرع احکام اوترسره کول یی الهی امانت دی، ولی تاسو هغه مهجورکړی اوخیانت موورسره کړی. وای پرتاسو که مودغه الهی امانت نه وی رعایت کړی،ډیرژربه دی دپښیمانی اوښکی پرمخ راتویی شی اودخدای درحمت دروازی به موپرمخ وتړل شی. تاسوبه دخلکو ترسترګو ټیټ کړی. له خدایه وبیریږی ځکه چی عذاب یی ډیرسخت اودردونکی دی. دمستی اوغرور پرمحال به مو الهی عذاب په امن ځایوکی ترلمن ونیسی. هغه دځمکو او آسمانونو خدای دی، دشکراومننی پواسطه یی دنعمت حق ترسره کړی.

اوامر اونواهی یی په زړه اوځان ومنی. ګراونه په صبر اوشکیبایی اوهوساینه اوراحت په شکرویلو ځواب کړی. ټول انبیاء او مرسلین اونیک خلک دزمانی په اوږدوالی کی په همدی لاره تللی، پرنعمت شاکره اوپرنقمت صابره و.دګناهونو اومعاصی له دسترخوانه راپاڅه اودطاعت اوبندګی پردسترخوان کښینی اودهرنعمت حق پرځای کړی. کله چی له ستونزو سره مخ شی نو صابره واوسی اوکله چی درته رنج ورسید له ګناهونو توبه وکړی اوخپل نفس په سروو هی. ځکه چی خدای عزّوجلّ دخپلو بندګانو پروړاندی ستمکارندی.

(ای غلامه) په پټوسترګو اونادانی دخلکو سره آمیزش مکوه. په بصیرت اوپوهه اوکامل ویښتوب، له نورو سره ناسته پاسته کوه. هرکله چی دی له دوی څخه ښه خصلت ولید دهغی پیروی وکړه اوکله چی دی بد خصلت ولید تری لیری شه اوخاوند ته یی وروګرزوه. دغفلت له خوبه راپاڅه اوټل دحق سبحانه اوتعالی په یادکی اوسه.

پرتا دلمانځه کثرت اوپه مسجدکی اوسیدل لازم دی، ګران رسول(صلی الله علیه وسلم) فرمایی:( **لَوْنَزَلَ مَنَ السَّمَآءِ نَارٌ لَمَانَجَا مِنْها اِلَّآ اَهْلُ الْمَسَاجَدِ**)-«که له آسمانه اور راتویی شی ،یوازی په جوماتوکی به خلک تری امن پاته شی». هرکله

موچې په لمانځه سستي رامنځ ته شوه ، اړیکه موله خدای سره پرې کیږی. په دی هکله رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) داسی فرمایی:( اَقْرَبُ مَایَکُونُ الْعَبْدُ مِنْ رَبِّهِ اِذَا کَانَ سَاجِداً)-«بنده دسجدی پروخت ،خدای ته ترهربل وخت ورنیژدی دی.».

وای پرتا! حیرانی! ترڅوبه مسألی تفسیراوتأویلوی اودشرعی امورو پرترسره کولولتی کوی، پوه شه چی داسی کسان بیکاره کسان دی. دریغی چی هرکله چی دعزیمت په مرکب سپاره شو اوټولنی ته ورسیږو اوټول کړه مو خالصانه دخدای لپاره وی. نه داسی چی کله درخصت په تأویل لاس پوری کړو دعزیمت اهل له مونږ وتښتی. په رېښتیا چې دازمانه د لټی زمانه ده نه دعزیمت اوزیارایستنی، دادوره د دوه مخی اوله خلکو څخه په ناحقه ددوی دمال داخیستنی دوره ده.

په رېښتیا څوک چې لمونځ کوی ، روژه نیسی اودخدای دخونی زیارت کوی اوشرعی زکات هم ورکوی اوپه نیکو کارونو هم لاس پوری کوی، شمیریې ډیرشوی ولی دوی ټول کړه دخلکو دخوښی لپاره اونه دحق درضا لپاره ترسره کوی.

داوسنی زمانی ډیرخلک ، بې خالقه مخلوق دی، یعنی خلکوته پام کوی اودخالق پروړاندی بی اعتناء. تاسوټول زړه مړی اوتن ژوندی یاست،ددنیا غوښتونکی اوشهوت پرست.

ژوندی زړه، ریښتنی ژوند دی، ځکه انسان دمخلوق له بنده ژغوری اوله حق سره یی تړی اومعنویت یی څواکمن کوی. څرنګه چی ظاهر په دی هکله اعتبارنلری. دزړه حیات اودزړه ویښتوب، دحق داوامرو په ترسره کولو، له منهیاتو ځان ساتلو، اوبلاو اومقدراتوپروړاندی په صبراوزغم سره ترلاسه کیږی.

(ای غلامه) دخدای پروړاندی تسلیم اوسه، بیا دخدای په یادسره په خپلو کړونو لاس پوری کړه. هرکاریوه بنست ته اړتیالری ترڅو ثابت اوپایدارپاته شی، دټولو کړو بنست دخدای رضا ته تسلیمیدل دی. شپه اوورځ اوپه ټول وخت په دی کارلاس پوری کړه. وای پرتا! په خپلو کارونو فکر اوغوروکړه، ځکه فکر دزړه له کړنو څخه دی اوهرکله چی دی کوم نیک کارتوفیق ترلاسه کړ نودخدای شکر وباسه چی پرترسره کولو یی توانمندی درکړی. اوهرکله چی دذلت اوخطایی له ځانه ولیده نوتری توبه وباسه اوخدای ته رجوع وکړه. ترڅودیوه ساعت داسی تفکر دیوی شپی له عبادت نه بهتره دی.

ای دمحمّد(صلی الله علیه وسلم) امته! دخدای عزّوجلّ شکرانه پرځای کړی چی هغه په لږعمل له تاسو راضی دی. تاسو په دنیا کی آخرین امت اودجزا په ورځ اولین امت یاستی، که یوله تاسو نیک کرداره اوسی، څوک له تاسوسره برابری نشی کولای. تاسو په حکم کی آمرین یاست اونورامتونه رعیت.

(ای غلامه) ترڅوچی دنفس اوهوا په خونه کی ناست یی معنوی روغتیا ته به ونه رسیږی. ترڅودی چی سترګی دنورو مال ته وی اوپه هره وسیله اوریا غواړی چی دځان یی کړی، ډاډه اوسه چی سلامت اوروغتیا ته به ونه رسیږی. ترڅوچی د میل اوآرزو دنیا اودهغی ښکلا وی، اوترڅوچی په غیرخدای زړه تړی، دروحی سلامت مخ به هم ونه وینی.

ای خدایه دروح روغتیا اوسلامت دخپل رحمت ترڅنګ مونږ ته راوبښه!

«وَآتِنَا فِی الدُّنْیا حَسَنَةً وَفِی الْآخِرَةِ حَسَنَةً مَ وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ» آمین.

---

۱- رخصت وعزیمت ازمباحث علم اصول است، بااین توضیح: گاهی بابقای سبب حکمی شرعی، به علتی ازمشکل به آسان یا بالعکس ازآسان به مشکل تبدیل می شود. مثلاً: خوردن گوشت مردار که شرعاً حرام است در موقع

اضطرار(حالت مخمصه) مباح می شود واین موضوع را رخصت گویند. وهمچنین شکار حیوانات که مباح است برای کسی که درحال حرام باشد حرام می شود واین موضوع را عزیمت گویند.

**من آن نیــم که حــلال زحرام نشنــاسم    شراب باتوحلال است وآب بی توحرام**